www.gmic.gov.af



# اَرګ پاڼه
یو شپیتمه ګڼه

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

د افغانستان اسلامي امارت، د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رياست، د عامه او ستراتيژيکو اړيکو معاونيت، د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

د تأسيس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 ميلادي | د چاپ نېټه: شعبان المعظم ۲۸مه، کال ۱۴۴۶ هجري قمري

د افغانستان اسلامي امارت د محترم رئيس الوزراء الحاج ملا محمد حسن اخند له لوري د سوريې د نوي انتقالي دورې ولسمشر محترم احمد الشرع ته د نوموړي د ټاکل کېدو له امله د مبارکۍ پيغام لېږلی، چې په دې پيغام کې د مبارکۍ د مراتبو وړاندې کولو تر څنګ هغوی ته د ښې حکومتولۍ او د سوريې د ناخوالو د کابو کولو او بريالیتوب دعاګانې شوې. محترم رئيس الوزراء په دې ليک کې د دواړو ورونو هېوادونو تر منځ د ښو او هر اړخيزو اړيکو هيله ښودلې ده.#

## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال اوزبيکستان ته له رسمي سفر څخه وروسته هيواد ته راستون شو



د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزرا اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړپوړی امارتي پلاوی اوزبيکستان ته له دوه ورځني رسمي سفر وروسته، خپل هيواد ته راستون شو...

۵

## آغاز دو پروژه برق‌رسانی در کابل به ارزش بیش از ۲۵ میلیون دالر



وزارت آب و انرژی کار دو پروژه برق‌رسانی را به ارزش بیش از ۲۵ میلیون دالر امریکایی در کابل آغاز نمود.
محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت...

۵

**په ۲۰۲۴ زېږديز کال کې د افغانستان او چين ترمنځ د ۸۰۹ ميليونه ډالرو په ارزښت صادرات او واردات شوي دي.**
**د صنعت او سوداګرۍ وزارت**



## د اوبو نړيوال کنفرانس په اړه
# د افغانستان اسلامي امارت د رئيس الوزراء پيغام

نحمده و نصلي على رسوله الكريم اما بعد:
قال الله تبارک و تعالى: وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً مُبَارَكًا فَأَنْبَتْنَا بِهِ جَنَّاتٍ وَحَبَّ الْحَصِيدِ(۹) وَالنَّخْلَ بَاسِقَاتٍ لَهَا طَلْعٌ نَضِيدٌ(۱۰) رِزْقًا لِلْعِبَادِ وَأَحْيَيْنَا بِهِ بَلْدَةً مَيْتًا كَذَلِكَ الْخُرُوجُ(۱۱) (سوره ق) صدق الله العظيم.
السلام عليكم ورحمة الله وبركاته
اوبه د ژوند سرچينه او د انساني ټولنې د بقا او پرمختګ له اساسي عواملو ګڼل کيږي. په ټولو هيوادونو کې غذايي امنيت، عامه روغتيا او اقتصادي وده په يو ډول تر اوبو پورې اړه لري...

۲

## د کابينې شپاړسمه غونډه کې د بريښنا لېږد، پراختيايي پروژو چټکتيا او يو شمېر نورو موضوعاتو په اړه بحث وشو

۲



## د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د اوبو نړيوال څېړنيز کنفرانس کې ګډون وکړ

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اوبو نړيوال څېړنيز کنفرانس کې چې د لويې جرګې په تالار کې جوړ شوی و، ګډون او وينا وکړه.
د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال ياد کنفرانس ته د خپلو خبرو پر مهال وويل، اوبه د الله تعالی يوازينۍ بې بديله نعمت دی او له هغه پرته د انسانانو، حيواناتو او...

۲

## د "نړيوالې جنايي محکمې" په نوم جوړښت په تړاو د افغانستان اسلامي امارت دريځ

د افغانستان اسلامي امارت د اسلامي شريعت په رڼا کې د افغانانو د ديني او ملي ارزښتونو د ساتونکي نظام په توګه د روم اساسنامې، او پر بنسټ يې د "نړيوالې جنايي محکمې" په نامه جوړښت ته ځان مکلف نه بولي او لاندې موارد اعلاموي:...

۲

## جلسهٔ کمیسیون اداری برگزار گردید

جلسهٔ کمیسیون اداری تحت ریاست محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان و با اشتراک اعضای این کمیسیون برگزار گردید...

۲

## نیروهای خاص برای حفاظت از پروژه‌های ملی موظف گردیده اند



۵

## د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د عزيزي ګروپ له لوري د څو سترو پروژو په پرانيست‌غونډه‌کې ګډون وکړ

۵

## سرمایه‌گذاری و اشتغال در وطن

سرمایه‌گذاری کشورهای منطقه در وطن، و نیز تمرکز بر کارهای اقتصادی قوی، نقش کلیدی در رشد اقتصادی، ایجاد زیرساخت‌ها و بهبود معیشت مردم دارد. این سرمایه‌گذاری‌ها می‌توانند زمینه‌ساز ایجاد شرکت‌ها، توسعه صنایع، بهبود زراعت و افزایش تجارت شوند که در نتیجه، فرصت‌های شغلی زیادی برای هم‌وطنان عزیز ایجاد خواهد شد. علاوه بر آن، جذب سرمایه خارجی و یا توجه تجار ملی بر سرمایه‌گذاری در کشور، باعث افزایش ثبات اقتصادی، بهبود مهارت‌های کاری و رشد تخنیکی در سرزمین ما می‌شود. در مجموع، سرمایه‌گذاری سکتور خصوصی و یا بین‌المللی نه‌تنها موجب کاهش بیکاری و فقر خواهد شد، بلکه افغانستان را به یک قطب اقتصادی در منطقه تبدیل می‌کند.

مولوی نعیم الحق حقانی
رئیس مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

سرمقاله

# از غصب تا عدالت: اقدامات امارت اسلامی در استرداد زمین‌های غصب‌شده دولتی

زمین به عنوان یکی از ارزشمندترین منابع طبیعی، همواره مورد توجه، افراد و گروه‌ها بوده است. در بسیاری از کشورها، افزایش قیمت زمین و ضعف در سیستم قضایی منجر به گسترش پدیده غصب زمین شده که این عمل غیرقانونی نه تنها حقوق مالکیت افراد را نقض می‌کند، بلکه نظم اجتماعی را نیز مختل می‌سازد.
غصب زمین به معنای تصرف غیرقانونی و ناحق یک زمین است. این عمل از نظر حقوقی، اخلاقی و دینی محکوم شده و مجازات سنگینی برای آن در نظر گرفته شده است. غصب زمین به مثابه یک معضل اجتماعی؛ موجب بروز اختلافات حقوقی، ناامنی و فساد می‌گردد؛ و اما، اجرای قوانین سخت‌گیرانه، برخورد قاطع با متخلفان و افزایش آگاهی عامه، راهکارهای موثری است که می‌تواند مانع گسترش این پدیده شود.
افزایش منازعات املاکی، ناامنی، خشونت و خصومت در جامعه، کاهش سطح اعتماد مردم نسبت به دولت، دلسردی سرمایه‌گذاران به سرمایه‌گذاری، ایجاد بازار سیاه زمین، گسترش دامنه فساد و بی‌عدالتی در جامعه، و نقض آموزه‌های دینی و اخلاقی، را می‌توان از اثرات منفی و پیامدهای ناگوار غصب زمین برشمرد.
تحولات سیاسی، بی‌ثباتی و گسترش دامنه جنگ و نا امنی چهار دهه اخیر در افغانستان، فرصت‌های زیادی را برای تعداد از افراد استفاده‌جو و سود طلب مهیا کرد تا آنان با کارگیری روش‌های گونه‌گون زمین‌های دولتی را غصب و به مقاصد شخصی و تجارتی مورد کاربرد قرار دهند. غصب زمین‌های دولتی، نه تنها باعث ازدیاد خصومت‌های شخصی و منازعات املاکی میان مردم در سطح کشور شد، بل، در اکثر موارد مانع تطبیق پروژه‌های انکشافی و عام المنفعه نیز گردید.
هرچند، حکومت‌های وقت در خصوص مدیریت زمین‌های دولتی اقداماتی را روی دست گرفتند، چنانچه برخی از مفاد قوانین را تعدیل، اسناد حکومتداری جدید را ترتیب و کمیسیون‌های متعددی را برای تنظیم و مدیریت امور زمینداری در کشور ایجاد کردند، اما با وصف این همه، این اقدامات نتیجه‌ای ملموسی در پی نداشت و معضل غصب زمین‌های دولتی نه تنها لاینحل باقی ماند بل با گذشت زمان بیشتر گردید.
آمار ابتدایی نشان می‌دهد که حدود ۴ میلیون جریب زمین دولتی در کشور از سوی افراد زورمند غصب شده است.
استرداد زمین‌های غصب شده دولتی، اقدامات و مبارزه جدی و قاطعانه می‌طلبید، اما سعی حکومت‌های وقت در امر استرداد زمین‌های غصب دولتی آنچنانیکه ایجاب می‌نمود، قناعت بخش نبود. طی دو دهه اخیر، دامنه غصب زمین‌های دولتی به‌گونه بی‌سابقه گسترش یافت، و اما تعداد محدودی که صادقانه در پی استرداد زمین‌های غصب شده دولتی بودند، با تهدیدهای گونه‌گون از سوی زورمندان مواجه گردیدند.
با حاکمیت دوباره امارت اسلامی در کشور، معضله غصب زمین‌های دولتی در صدر اولویت‌های کاری دولت قرار گرفت و امارت اسلامی برای حل اساسی این معضل دست به کار شد. طی سه سال اخیر، نظام حاکم تلاش‌هایی را برای جلوگیری از غصب زمین‌های دولتی در کشور آغاز کرد. این اقدامات شامل تشکیل کمیسیون ویژه برای بررسی و بازپس‌گیری زمین‌های غصب‌شده دولتی، شناسایی و محاکمه افرادی که در غصب زمین‌ها دست داشته‌اند، و اجرای قوانین سخت‌گیرانه‌تر برای جلوگیری از تصرف غیرقانونی اراضی می‌باشد.
بر اساس فرمان رهبری امارت اسلامی افغانستان، به تاریخ ۱۱ سرطان سال ۱۴۰۱ هجری شمسی، کمیسیون جلوگیری از غصب زمین و استرداد زمین‌های غصب شده به ریاست وزیر عدلیه و اعضای ادارات سکتوری ایجاد گردید. این کمیسیون به هدف، شناسایی، تثبیت و استرداد زمین‌های غصب شده و جلوگیری از غصب زمین، تاسیس شد. این کمیسیون هم اکنون در کابل و ۳۳ ولایت دیگر در راستای تثبیت و استرداد زمین‌های غصب شده و جلوگیری از غصب بیشتر فعالیت می‌نماید.
در یک اقدام دیگر، امارت اسلامی به منظور بررسی همه جانبه قضایای غصب زمین در کشور، در سطح چهار زون، محاکم اختصاصی را ایجاد نمود تا از این رهگذر به قضایای غصب زمین به اسرع وقت رسیدگی صورت گیرد.
نظرداشت این دو راهکار، امارت اسلامی با قاطعیت تام تلاش می‌ورزد، معضل غصب زمین‌های دولتی را که به یک سرطان مبدل گردیده است ریشه‌کن ساخته و زمینه تطبیق پروژه‌های عام المنفعه را در کشور فراهم سازد. کمیسیون جلوگیری از غصب زمین و استرداد زمین‌های غصب شده بعد از بررسی همه جانبه اوراق، دفاتر املاکی و اسناد کدستر، زمین‌های غصب شده دولتی را شناسایی و استرداد می‌کند، در صورتیکه غاصب به فیصله کمیسیون قناعت نکند، موضوع به محکمه اختصاصی راجع شده و فیصله نهایی در خصوص آن صورت می‌گیرد.
آمار موجود نشان می‌دهد که، طی سه سال اخیر بیش از ۴۹ میلیون جریب زمین دولتی در کشور شناسایی و تثبیت گردیده و بالاثر سعی و اهتمام دلسوزانه کمیسیون یاد شده، در جریان دو و نیم سال گذشته بیش از ۳ میلیون جریب زمین غصب شده دولتی استرداد گردیده است. استرداد زمین‌های غصب شده دولتی نه تنها در بخش حفاظت از اراضی دولتی به عنوان سرمایه ملی حایز اهمیت بوده بل، زمینه استفاده موثر و مقعول از اراضی دولتی، جلب سرمایه‌گذاری‌های بیشتر و تحقق پروژه‌های انکشافی و اقتصادی را در کشور فراهم خواهد ساخت.
امارت اسلامی با ایجاد ساختارهای قانونی و اجرایی، در امر مقابله قاطعانه با پدیده غصب زمین و استرداد زمین‌های غصب شده دولتی از نزد زورمندان و متصرفان غیر شرعی تلاش‌های پیگیر انجام می‌دهد. امارت اسلامی متعهد است، با تسریع روند استرداد زمین‌های غصب شده دولتی، در عرصه تطبیق پالیسی‌ها و پلانگذاری‌های جامع اقتصادی، ملی و زیربنایی گام برداشته تا از این رهگذر، در رشد اقتصاد ملی، اشتغال‌زایی، رفاه عامه، و آوردن تغییرات ملموس و مشهود در حیاتی اجتماعی و اقتصادی مردم، کارهای بنیادی و اساسی صورت گیرد.#

**نویسنده: حشمت ناصری**

## د کابينې شپاړسمه غونډه کې د برېښنا لېږد، پراختيايي پروژو چټکتيا او يو شمېر نورو...

...د افغانستان اسلامي امارت د رئيس الوزراء محترم الحاج ملا محمد حسن اخند په مشرۍ د کابينې شپاړسمه غونډه کې چې په ارګ کې ترسره شوه، د يو شمېر موضوعاتو په اړه بحث او پرېکړې وشوې. د کابينې په دې غونډه کې، د امارتي شرکتونو لوی رياست ته دنده وسپارل شوه چې د برېښنا رسونې بهير د چټکتيا لپاره لازم اقدامات وکړي. همدا راز د رياست الوزراء اداري مرستيال ته دنده وسپارل شوه چې د اوبو او انرژۍ وزارت او د افغانستان برېښنا شرکت استازو سره غونډه وکړي تر څو د برېښنا په برخه کې د يادو ادارو کاري استقامتونه په تفصيلي توګه واضح او په دې برخه کې له يوه بل سره همکاري او همغږي پياوړې شي. دغه راز د کابينې په غونډه کې اقتصاد وزارت ته دنده وسپارل شوه چې د پراختيايي پروژو پلي کولو په موخه له ټولو ادارو سره په همغږۍ پر وخت د پراختيايي بودجې د لګښتونو او د پروژو د سرته رسولو موضوعات تعقيب کړي. په غونډه کې همدا راز ځانګړو پلاوېو يو شمېر نور مسائل ته وسپارل شول، تر څو يې چارې نهايي او راپور يې د کابينې راتلونکې غونډې ته وړاندې کړي.
د کابينې دا غونډه د خير په دعا پای ته ورسېده.#

## د اوبو نړيوال کنفرانس په اړه د افغانستان اسلامي امارت د رئيس الوزراء...

...ټولو ته معلومه ده چې په نړيواله کچه اقليمي بدلونونو، ناکافي بارانونو، ويجاړوونکو سېلابونو او مسلسلو وچکاليو جدي ستونزې پېښې کړې دي.
دغه راز په ځانګړې ډول زموږ په هېواد کې د ځمکې لاندې اوبو بې کنټروله استخراج نه يوازې د اوبو سرچينې کمزوري کوي، بلکې محيطي او ټولنيزې بدې پايلې هم لري، چې د راتلونکو نسلونو د اوبو اړتياوو پوره کولو لپاره جدي ګواښ ګڼل کېږي.
د افغانستان اسلامي امارت د اوبو د سرچينو غوره مديريت د وخت اړتيا ګڼي، په ځانګړې ډول د ځمکې لاندې اوبو سم کارولو او د اقليمي بدلونونو د اغېزو راکمولو په موخه د ځانګړو تګلارو پلي کولو ته کلک تعهد لري.
موږ باور لرو چې د اوبو د سرچينو د مديريت په برخه کې د جامع حل لارو د تدوين او تطبيق له لارې کولای شو، په آبي منابعو شته فشار راکم او دغه ارزښتناک امانت تر راتلونکو نسلونو پورې په خونديتوب سره ورسوو.
د دې مهم کانفرانس له لارې ټولو ګډونوالو ته بې سارې فرصت برابر شوی چې د اوبو سرچينو د مديريت او خونديتوب په اړه خپل نظريات، څېړنې او عملي تجربې وړاندې کړي.
تر څو د حل لارو په موندلو کې ترې کار واخيستل شي.
موږ له ټولو څېړونکو او متخصصينو غوښتنه کوو، چې د خپل علم او تجربې په رڼا کې د اوبو د مديريت او اقليمي بدلون د اغېزو کمولو په برخه کې د مؤثرو تګلارو او ستراتيژيو په جوړولو کې برخه واخلي.
څرنګه چې دغه مهم هدف ته رسېدل د بېلابېلو امارتي ادارو، پوهنتونونو، تخصصي مراکزو او خصوصي سکتور ترمنځ همکاري او همغږي غواړي، بناء په ټولو اړونده اړخونو غږ کوو، چې يادې ستونزې ته د حل په موندلو کې خپل ور په غاړه مسؤليتونه ترسره کړي.
د همغږۍ او همکارۍ روحيه به د پرېکړو د تطبيق په برخه کې مرسته وکړي او د ستونزو د حل په برخه کې به ګټور واقع شي.
په پای کې د کانفرانس ګډونوالو ته ډاډ ورکوم چې اسلامي امارت د هر هغه اقدام کلک ملاتړ کوي، چې زموږ د مؤمن ولس ګټې او پرمختګ ورسره تړلې وي.
دغه راز له ټولو هغو مسؤلينو مننه کوم چې دغه مهم کانفرانس يې رابللی، د کانفرانس تدوير لپاره يې امکانات برابر کړي او يا يې دلته ګډون کړی دی.
الله تعالی دې د دوی هڅې په خپل دربار کې قبولې کړي.
آمين يا رب العالمين

والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته
الحاج ملا محمد حسن آخند
د افغانستان اسلامي امارت رئيس الوزراء

## د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د اوبو نړيوال څېړنيز کنفرانس...

...نباتاتو ژوند، د هېوادونو اقتصادي وده او پراختيا امکان نه لري. د اسلام مبارک دين د يوې اسلامي ټولنې په توګه موږ ته له اوبو سره د سم چلند په اړه ديني مکلفيت راجع کوي او له بل لوري له نړۍ سره د سيالۍ، اقتصادي ودې او د راتلونکو نسلونو د حقونو خوندي کولو لپاره د اوبو پايښت لرونکی او مسلکي مديريت ډېر اړين او ستر ملي مکلفيت ګڼل کېږي.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زياته کړه، که څه هم اوبه نوې کېدونکې طبيعي سرچينه ده، خو بيا هم په اوسنۍ نړۍ کې د اقليمي بدلونونو، د اوبو ککړتيا کچې لوړېدو، د انسانانو زياتېدونکو اړتياوو او له اوبو سره د انسانانو د ناسم چلند له امله په جدي توګه د هغه کمښت حس کېږي او په مسلسله توګه د کمېدو په حال کې دي. دې ناورين د هېوادونو پر خپل منځي او نړيوالو سياسي او اقتصادي اړيکو هم منفي اغېزه کړې ده.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل: افغانستان د اوبو پراخې طبيعي سرچينې او زېرمې لري، خو له بده مرغه د هېواد په معاصر تاريخ کې له دغه ستر نعمت سره د بېلابېلو عواملو له امله مسلکي او ملي چلند نه دی شوی. نو په دې اساس اوس زموږ او ستاسې ګډ مسووليت دی چې له هرې ممکنې لارې او امکاناتو څخه په استفادې د اوبو د غوره مديريت لپاره اساسي ګامونه واخلو.
د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خبره، په همدې موخه د خپل حق له اوبو د ښې استفادې او مديريت په موخه د افغانستان اسلامي امارت خپلې هڅې کوي چې يوه بېلګه يې د قوش تېپې کانال کيندل او د ځينو نورو بندونو ترل او رغول دي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په پای کې د اوبو د غوره مديريت په برخه کې نننی کنفرانس او دلته د پوهنتونونو د استادانو او اوبو برخې متخصصينو له لوري دڅېړنيزو مقالو او تجربو شريکول مهم وبلل او هغوی ته يې د لا زياتو او دقيقو څېړنو ترسره کولو سپارښتنه وکړه.
د يادونې وړ ده چې د اوبو نړيوال څېړنيز کنفرانس د لوړو زده کړو وزارت او کابل پولي تخنيک پوهنتون له لوري په هېواد کې د اوبو غوره مديريت، تر ځمکې لاندې اوبو سرچينو د تغذيې، د اوبو د سالمې استفادې او ککړتيا د مخنيوي په موخه د درېيو ورځو لپاره جوړ شوی دی. ياد کنفرانس ته د امارتي ادارو يوشمېر مسوولين، د بهرنيو معتبرو پوهنتونونو استادان، د نړيوالو سازمانونو استازي او د اوبو مديريت برخې کورني او نړيوال څېړونکي او متخصصين رابلل شوي چې ۱۳۵ څېړنيزې مقالې به پکې شريکې شي.#

## د "نړيوالې جنايي محکمې" په نوم جوړښت په تړاو د افغانستان اسلامي...

...لومړی: د يادې "محکمې" تاريخ دا په ډاګه کوي چې د عدل او انصاف د اصل پر ځای يې د سياسي تمايلاتو له مخې چلن کړی دی. د افغانستان اسلامي امارت چې له هېوادونو سره د متقابل احترام او پر اصولو ولاړ تعامل غواړي، له دې تګلارې سره موافق نه دی.
دوهم: د افغانستان په شمول ډېرو هېوادونو کې تر مليونونو بې‌ګناه انسانان، چې اکثريت يې ښځينه، ماشومان او په ټوله کې ملکيان تشکيلوي، ځپل شوي او وژل شوي دي. خو دا "محکمه" د يادو لويو ظلمونو په اړه پټه خوله پاته شوې ده.
درېيم: ياد جوړښت په افغانستان کې د اشغالګرو او د هغوی د ملګرو له لوري د عامو افغانانو پر خلاف د ترسره شوو جنګي جرايمو، چې پکې پوره پوره کلي، تعليمي مرکزونه، مساجد، روغتونونه، او د ښاديو محفلونه له خاورو سره خاورې شول، ښځې، ماشومان، سپين ږيري، او حتی په زرګونو لاس تړلي اسيران په شهادت ورسيدل، هېڅ پوښتنه نه ده کړې او نه هم د هغو ظالمانه اقداماتو مخنيوی شوی دی.
څلورم: په داسې حال کې چې د نړۍ ډېری لوی هېوادونه د دې "محکمې" غړي نه دي، د افغانستان په څېر هېواد، چې همېشه د نورو د اشغال او استعمار له لوري مظلوم واقع شوی دی، غړيتوب يوه غير ضروري چاره ده.
د پورتنيو موارد و په پام کې نيولو سره، د افغانستان اسلامي امارت په رسمي ډول اعلانوي چې د روم پر اساسنامې مکلف نه دی او د تېرې ادارې له خوا يادې اساسنامې ته الحاق هېڅ ډول حقوقي اعتبار نه لري.#

د افغانستان اسلامي امارت
۲۱/۸/۱۴۴۶هـ ق
۲/۱۲/۱۴۰۳هـ ش. ۲۰۲۵/۲/۲۰ م

## جلسهٔ کمیسیون اداری...

...در این جلسه نخست کمیته‌های مؤظف راجع به کارکردها و اجراآت شان پیرامون وظایف سپرده شده از سوی کمیسیون گزارش ارائه کردند.
سپس روی چگونگی جلوگیری از آلودگی هوا و نصب فلتر در مرکز گرمی‌ها، کنترول وسایط نقلیه و جلوگیری از سوخت اشیای دارای گازات مضره بحث و بررسی همه جانبه صورت گرفت و در زمینهٔ فوق الذکر تصامیم لازم اتخاذ گردید.#

PANA
ARG
Islamic Emirate of Afghanistan
Govt. Media and Information Center
www.gmic.gov.af
Issue #61

Publish By:
Government Media and Information Center (GMIC)

Contact Number:
+93 (0) 202100633

Email:
info@gmic.gov.af

Address:
Marble Palace, Opposite to the Ministry of Foreign Affairs, Kabul, Afghanistan

# Special Forces Deployed to Safeguard National Projects



The Ministry of Interior has announced the deployment of special forces to ensure the security of major national and infrastructure projects.
According to Ministry...ContP#4

# Initiation of Two Power Supply Projects in Kabul Valued at Over $25 Million



The Ministry of Water and Energy has commenced two major power supply projects in Kabul, with a total investment exceeding $25 million.
Acting Minister of Water and Energy, Mullah Abdul Latif Mansoor, stated that the implementation of these projects will play a pivotal role in alleviating electricity shortages affecting both Kabul's residents and its industrial parks.
These initiatives include the establishment of a new 189-megavolt substation in the Bagrami district and the construction of a 220-kilovolt transmission line extending from Arghandi to the substation.
Emphasizing the ministry's strategic objectives, the Acting Minister reaffirmed its commitment to optimizing the management of national water resources...ContP#4

# Message of Congratulations from the Prime Minister of the Islamic Emirate of Afghanistan to Syria's New Transitional President



The Prime Minister of the Islamic Emirate of Afghanistan, Mullah Mohammad Hassan Akhund, has sent a message of congratulations to the newly appointed Transitional President of Syria, Ahmed Al-Sharaa.
In his message, the Prime Minister extended his warmest congratulations and also offered prayers for effective governance and success in overcoming the challenges facing Syria.
Furthermore, the Prime Minister expressed his aspirations for the development of strong and comprehensive relations between the two brotherly nations. #

# 16th Cabinet Meeting Focuses on Electricity Transmission, Development Projects, and Inter-Agency Coordination

The 16th Cabinet meeting of the Islamic Emirate of Afghanistan, chaired by the Prime Minister, Mullah Mohammad Hassan Akhund, was convened at the Arg, where significant discussions and decisions were undertaken on various national matters.
During the session, the General Directorate of State Corporations was mandated to implement necessary measures to expedite the electricity supply process.
Furthermore, the Administrative Deputy of the Prime Minister was instructed...ContP#4

# UNHCR Signs $6 Million Cooperation Agreement with Japan to Support Afghan Returnees and IDPs



The United Nations High Commissioner for Refugees (UNHCR) has formalized a $6 million cooperation agreement with Japan, aimed at enhancing the livelihoods and self-reliance of displaced and returning Afghans. This initiative is expected to benefit 15,000 individuals across 13 provinces in Afghanistan. Arafat Jamal, a representative of UNHCR, noted that through this new collaboration with the Japan International...ContP#4

# Rehabilitation of Surkh Ab Dam and Commissioning of Two New Dams in Logar Province



Over 11 million Afghanis have been allocated for the rehabilitation of the Surkh Ab Dam in Logar Province, in conjunction with the commissioning of two additional dams valued at nearly 6 million Afghanis by the Ministry of Water and Energy. The Surkh Ab Dam has a water storage capacity of 9 million cubic meters and irrigates 3,000 hectares of land,...ContP#4

# Special Forces Deployed to Safeguard National...



...spokesperson Abdul Mateen Qani, the Islamic Emirate has taken serious measures to protect development initiatives, particularly in the transit and trade sectors.

Underscoring the strategic importance of infrastructure projects, the spokesperson stated that, in accordance with the directive of the Supreme Leader of the Islamic Emirate, 200 elite security personnel have been designated to protect the Qosh Tepa project. #

# Economic Deputy Prime Minister Concludes Productive Official Visit to Uzbekistan



The Economic Deputy Prime Minister of the Islamic Emirate of Afghanistan, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, has returned to his country following a two-day official visit to Uzbekistan, where he led a high-level government delegation.

During a press conference at Kabul International Airport, Mullah Abdul Ghani Baradar characterized the visit as highly successful, noting that extensive and fruitful discussions were held with Uzbekistan's Prime Minister, Abdullah Aripov, Deputy Prime Minister Jamshed Khodjayev, and the Ministers of Trade and Aviation to enhance and develop bilateral trade relations.

Mullah Abdul Ghani Baradar highlighted that the contract for a 500-kilovolt electricity line extending from the Uzbek border to Afghanistan's Dasht Alwan, initially valued at $252 million, has been successfully negotiated down to $222 million.

In addition, he stated Uzbekistan's commitment to dispatch a technical team for feasibility studies related to the railway line from Hairatan to Herat, with practical implementation of this significant project expected to commence ten days following the completion of these studies. Uzbekistan will cover the associated costs for these technical assessments.

The Economic Deputy Prime Minister also announced that Uzbekistan has pledged to increase its electricity supply to Afghanistan during the summer and to reduce the relevant tariffs.

Moreover, he indicated that agreements were reached to promote cooperation in the agricultural sector between Afghanistan and Uzbekistan, with Uzbekistan committing to lift existing restrictions on Afghan agricultural products and to expedite the signing of specific agreements across various sectors.

The Acting Minister of Industry and Commerce, Nooruddin Aziz, who accompanied the Economic Deputy Prime Minister as part of the high-level delegation, provided detailed responses to journalists' inquiries regarding the discussions and agreements established between Afghan and Uzbek officials. He emphasized that the delegation's visit to Uzbekistan yielded significant outcomes, encompassing detailed discussions across seven key programs.

Nooruddin Aziz also addressed discussions regarding the integration of banking systems, transaction services, and financial transactions between Afghanistan and Uzbekistan, ensuring the necessary facilities for traders from both countries based on the agreements reached.

Furthermore, he noted that comprehensive discussions were held regarding the railway connection between Hairatan and Spin Boldak, which will link through Herat, Farah, Nimroz, Helmand, and Kandahar. According to Nooruddin Aziz, the primary objective of the Islamic Emirate delegation's visit to Uzbekistan was to establish a balanced trade relationship concerning exports and imports, a goal acknowledged by Uzbekistan's Prime Minister, who assured necessary facilitation and serious attention to these collaborative projects.

In conclusion, Nooruddin Aziz stated that agreements were also reached during the visit to establish trade centers in four major cities in both Afghanistan and Uzbekistan to support traders, as well as to discuss a preferential agreement aimed at eliminating customs duties on ten categories of Afghan export products. #



# 16th Cabinet Meeting Focuses on Electricity Transmission,...

...to engage with representatives from the Ministry of Water and Energy and Da Afghanistan Breshna Sherkat (DABS) to comprehensively outline the operational frameworks of these institutions and enhance inter-agency coordination and cooperation in the electricity sector.

In addition, the Ministry of Economy was directed to work in close coordination with all relevant entities to ensure the timely allocation of development funds and the efficient execution of projects aimed at fostering national development.

The Cabinet also assigned specific committees to finalize several other pertinent issues, with the respective reports scheduled for presentation in the upcoming Cabinet meeting.

The meeting concluded with prayers for prosperity and national well-being. #

# UNHCR Signs $6 Million Cooperation Agreement with Japan to...

...Cooperation Agency (JICA), over 15,000 returning Afghans will have access to programs designed to promote their self-sufficiency and overall well-being.

During the signing ceremony, Takayoshi Kurumaya, the Ambassador of Japan to Afghanistan, emphasized Japan's commitment to supporting the Afghan population.

According to reports from UNHCR, Japan has contributed nearly $30 million to the agency's operations in Afghanistan since 2021. #

# Uzbek Investors Encouraged to Explore Mining Opportunities in Afghanistan

During his visit to Uzbekistan, Acting Minister of Mines and Petroleum, Mullah Hedayatullah Badri, held meetings with the Minister of Energy, the Head of Oil and Gas, the Director of the Geology University, the Deputy Head of Information Technology, and Afghan traders residing in Uzbekistan.

According to a statement from the Ministry of Mines and Petroleum, the Acting Minister extended an invitation to Uzbek investors to explore investment opportunities in Afghanistan's mining sector. The discussions also emphasized the importance of enhancing the capacity of Afghan engineers and the effective exploitation of the country's mineral resources. #

# Rehabilitation of Surkh Ab Dam and Commissioning of Two...





...benefiting approximately 9,000 households both directly and indirectly. Furthermore, the two newly commissioned dams have a combined water storage capacity of 16,000 cubic meters. #...

# Initiation of Two Power Supply Projects in Kabul Valued at...





...and ensuring a sustainable energy supply through the execution of critical infrastructure projects.

Furthermore, the Governor of Kabul underscored the significance of investment in the power sector for fostering industrial growth, commercial expansion, and infrastructure development. He noted that the Islamic Emirate launched 210 infrastructure projects in Kabul over the past year, with several already completed.

According to the Ministry of Water and Energy, these initiatives are integral to the broader 500-kilovolt transmission line project linking Turkmenistan to Afghanistan. Upon completion, these efforts will substantially mitigate energy challenges faced by Kabul's population. #

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ازبیکستان له لومړي وزیر...

...د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د افغانستان او اوزبیکستان ترمنځ د اوسپنې پټلۍ او سړکونو پراختیا یوه مهمه او اساسي موضوع وبلله او اوزبیکستاني لوري ته یې بلنه ورکړه څو د مزارشریف – هرات او له هغه ځای څخه کندهار ته د اوسپنې پټلۍ پروژه کې چې اوزبیکستان له ایران او چین سره نښلوي، پانګونه وکړي.

د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خبره، په دې سره به له جنوبي اسیا هېوادونو، ایران او چین سره د تاشکند سوداګري پراخه شي او دا به د سیمې په ثبات او پرمختګ کې رغنده رول ولوبوي.

همداراز محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سالنګ لویې لارې د دوهم تونل جوړولو په برخه کې هم تاشکند ته د پانګونې بلنه ورکړه.

د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال وویل، د دې تونل له لارې مرکزي اسیا له جنوبي اسیا سره نښلول کېږي او د سیمې په ترانزیټ کې اساسي رول لري.

په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ازبیک لوري ته ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت له اوزبیکستان سره ټولو امنیتي، اقتصادي او کلتوري اړیکو ته ژمن او د دواړو هېوادونو ترمنځ د ښو اړیکو د پراختیا غوښتونکی دی. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دواړو لورو ترمنځ په بېلابېلو برخو کې د شوو توافقنامو پر عملي کولو او همدا راز د کابل او تاشکند ترمنځ د بنسټیزو پروژو، سوداګرۍ، ترانزیټ، سیمه ییزو مسایلو او اقتصادي اړیکو د پراختیا په اړه پر ګډ کار کولو ټینګار وکړ.

ورپسې د ازبیکستان لومړي وزیر عبدالله عارف اوف له افغانستان سره د اقتصادي اړیکو پر پراخوالي ټینګار وکړ او وې ویل، ازبیکستان د تاشکند او کابل ترمنځ د اقتصادي اړیکو او سوداګرۍ د پراختیا په موخه له ټولو شریکو شوو طرحو ملاتړ کوي او د عملي کېدو له پاره به یې د دواړو لورو تخنیکي ټیمونه خپل کار ته دوام ورکړي.#

## کابل او تاشکند په بېلابېلو اقتصادي برخو کې د ګډې همکارۍ...



...مشترکاتو د تاریخ په اوږدو کې د دواړو هېوادونو پر سیاسي او اقتصادي اړیکو خورا مثبت اغېز کړی دی.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، د اسلامي امارت په حاکمیت سره د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګریزې اړیکې ورځ تر بلې د زیاتېدو او پیاوړتیا په حال کې دي او اړتیا ده، چې دواړه لوري یې د لا پراختیا په موخه ګډ کار وکړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کابل او تاشکند ترمنځ د سوداګریزو اړیکو د پراختیا په موخه د اوزبیکستان د مرکزي بانک له لوري د بانکي انتقالاتو په برخه کې د لازمو اسانتیاوو پر رامنځته کولو، د افغانستان بانکي سکټور د ظرفیت لوړونې په برخه کې د اوزبیکستان پر همکارۍ، په سوداګریزه راکړه ورکړه کې د دواړو هېوادونو له ملي پولي واحدونو څخه پر استفادې، په سرحد کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ګمرکي سیستمونو پر ژر وصل، د ګډ بازار لپاره د توکو په انتقال کې افغان سوداګرو ته د اسانتیاوو پر رامنځته کولو، د افغان سوداګرو پر وراندې د سوداګریزو اجازه نامو له منځه وړلو، هغوی ته د ویزو د ورکړې په برخه کې د سهولتونو پر رامنځته کولو، له ازبیکستان سره د هایدرو کاربونونو او کانونو په برخه کې د شویو توافقنامو عملي پیل باندې ټینګار وکړ.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له ازبیکستاني لوري وغوښتل څو د ۵۰۰ کیلو ولټ برېښنا مزي او افغان – ټرانس پروژې عملي چارې ژر پیل کړي. اسلامي امارت په دغه برخه کې هر ډول همکارۍ ته چمتو دی. همدارنګه محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ازبیکستاني پانګوال په افغانستان کې په بېلابېلو برخو کې پانګونې ته راوبلل او هغوی ته یې د هر ډول اسانتیاوو برابرولو ډاډ ورکړ.

د ازبیکستان د لومړي وزیر مرستیال ښاغلي جمشید خوجه یوف په ذکر شوو برخو کې د اوزبیکستان له لوري د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ او وویل، تاشکند په ټولو اقتصادي برخو کې له کابل سره د ګډ کار کولو لېوالتیا لري.

د یادونې وړ ده چې د سوداګرۍ، ترانزیټ، د کانونو او صنعت په برخه کې د پانګونې، په افغانستان کې د اوسپنې پټلۍ شبکو د پراختیا او جوړولو، بانکي همکاریو او یوشمېر نورو اقتصادي برخو کې به د دواړو لورو تخنیکي کمېټې خپل کار ته دوام ورکړي.#

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د عزیزي ګروپ له لوري د څو سترو پروژو په پرانیست‌غونډه کې ګډون وکړ

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د عزیزي ګروپ لخوا د څو سترو خیریه او سوداګریزو پروژو او همدا راز تعلیمي بنسټونو په پرانیست‌غونډه کې ګډون وکړ.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال یادو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، د عزیزي ګروپ له لوري په بېلابېلو برخو کې د مهمو پروژو پیل په افغانستان کې د خصوصي پانګونې په برخه کې یو ستر او مهم ګام دی، چې پر مټ به یې هېوادوالو ته نوي کاري فرصتونه برابر شي، بنسټیزو او اړینو خدماتو ته به د خلکو لاسرسی اسانه او په ټوله کې د هېواد په ابادۍ کې مهم رول ولري.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د هېواد اقتصادي وضعیت ته په اشارې سره وویل، په ټول هېواد کې امنیت تأمین او د لویو اقتصادي پروژو عملي چارې روانې دي او ورځ تر بلې له هېوادونو سره سوداګریزې او دیپلوماتیکې اړیکې پراخېږي چې په راتلونکي کې به نور ښه زیري هم ولرو. په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د عزیزي ګروپ مسئولینو ته د یادو پروژو د پیل مبارکي وویله او له ټولو پانګوالو یې وغوښتل چې په خپل هېواد کې پانګونه وکړي، اسلامي امارت دوی ته د هر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکوي.

د یادونې وړ ده چې عزیزي ګروپ په کابل کې د سرطاني ناروغیو د تداوۍ ۴۰۰بستریز معیاري روغتون، د مور او ماشوم د خوندیتوب لپاره ۲۰۰ بستریز زېږنتون، معیاري ښوونځي، د نرسېنګ انسټېټیوټ، طبي پوهنتون او د ۲۰۰ میګاواټه په ظرفیت د برېښنا د تولید پروژو عملي چارې پیل کړې.#

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال اوزبیکستان ته له رسمي سفر څخه وروسته هیواد...



...محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په کابل نړیوال هوایي ډګر کې د مطبوعاتي کنفرانس پر مهال اوزبیکستان ته خپل سفر له لاسته راوړنو ډک وباله او وې ویل، په دې سفر کې د اوزبیکستان لومړي وزیر محترم عبدالله عارف اوف، د اوزبیکستان د لومړي وزیر مرستیال محترم جمشید خواجه یوف، د اوزبکستان سوداګرۍ او هوایي چلند وزیرانو سره د دوه اړخیزه سوداګرۍ د پراختیا او پیاوړتیا لپاره مفصل او ګټور بحثونه وشول.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، د اوزبیکستان له سرحد څخه د افغانستان تر دشت الوان پورې د ۵۰۰ کیلو ولټه برېښنا مزي قرارداد چې پخوا په ۲۵۲ میلیون ډالرو شوی و، تر بحثونو وروسته یې قېمت ۲۲۲ میلیون ډالرو ته راکم شو.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اوزبیکستان ژمنه وکړه، چې له حیرتان. هرات پورې د رېل پټلۍ د تخنیکي مطالعاتو لپاره به هم ژر د دوی یو تخنیکي پلاوی ساحې ته سفر وکړي او تر تخنیکي مطالعاتو لس ورځې وروسته به د دغې مهمې پروژې عملي کار پیل شي. د دغې پروژې د تخنیکي مطالعاتو لګښت هم اوزبیکستان ورکوي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، اوزبیکستان ژمنه وکړه چې په اوړي کې به افغانستان ته خپله برېښنا زیاتوي او تعرفه به یې کموي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، د افغانستان او اوزبیکستان ترمنځ د کرنې سکټور پراختیا لپاره هم ژمنه وشوه چې یاد هیواد به د افغانستان پر کرنیزو محصولاتو شته محدودیتونه لرې کوي او په هره برخه کې به هم مشخص قراردادونه ژر د دواړو لوریو ترمنځ لاسلیک شي.

د صنعت او سوداګرۍ سرپرست وزیر محترم الحاج نورالدین عزیزي چې اوزبیکستان ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په مشرۍ په لوړپوړي امارتي پلاوي کې شامل و، د افغان او اوزبیک لوریو ترمنځ په کتنو کې د شویو بحثونو او قراردادونو په اړه د خبریالانو پوښتنو ته مشخص ځوابونه ورکړل. نوموړي وویل، اوزبیکستان ته د اسلامي امارت د پلاوي سفر له لاسته راوړنو ډک وو او په ۷ برنامو کې د اوزبیکستان لوري سره په تفصیل بحثونه وشول.

د صنعت او سوداګرۍ محترم سرپرست وزیر د افغانستان پر سوداګرو او سوداګرۍ شته محدودیتونو ته په اشارې، د افغانستان او اوزبیکستان ترمنځ د بانکدارۍ سیستمونو د وصل، ټي ټي او ټرانزېکشن په اړه هم د تفصیلي بحثونو یادونه وکړه او وې ویل، د دواړو لوریو د بحثونو او ژمنو پر اساس به د افغانستان او اوزبیکستان سوداګرو ته لازمې اسانتیاوې برابرې شي. د صنعت او سوداګرۍ محترم سرپرست وزیر زیاته کړه، د حیرتان. سپین بولدک ترمنځ د رېل پټلۍ نښلولو په اړه هم د دواړو لوریو ترمنځ مفصل بحثونه و شول، چې له هرات، فراه، نیمروز، هلمند او کندهار څخه به تېرېږي او تر سپین بولدک پورې رسېږي. محترم نورالدین عزیزي وویل، اوزبیکستان ته د اسلامي امارت د پلاوي سفر اصلي هدف له یاد هیواد سره د افغانستان د صادراتو او وارداتو د بېلانس رامنځته کول وو چې د اوزبیکستان محترم لومړي وزیر هم دغو شریکو پروژو ته د لازمو اسانتیاوو رامنځته کولو او جدي پاملرنې ډاډ ورکړ.

محترم الحاج نور الدین عزیزي د خپلو خبرو په پای کې وویل، اوزبیکستان ته د دغه سفر پر مهال همداراز هوکړه وشوه، چې د سوداګرو د ملاتړ لپاره به د افغانستان او اوزبیکستان په ۴ لویو ښارونو کې د سوداګرۍ مرکزونه جوړېږي او له اوزبیکستان سره د افغانستان پر ۱۰ قلمه صادرونکو توکو د ګمرکي تعرفې د صفر کولو پر ترجیحي موافقتنامې هم بحثونه وشول.#

## نیروهای خاص برای حفاظت از پروژه‌های ملی موظف...





...وزارت امور داخله می‌گوید که برای تامین امنیت پروژه‌های بزرگ زیربنایی و ملی، نیروهای خاصی را به این پروژه‌ها اختصاص داده است. عبدالمتین قانع سخنگوی این وزارت تاکید کرده که امارت اسلامی برای تامین امنیت پروژه‌های توسعه‌ای، به‌ویژه در بخش‌های ترانزیتی و بازرگانی، اقدام‌های جدی را روی دست گرفته است.

سخنگوی وزارت همچنین به اهمیت پروژه‌های زیربنایی اشاره کرده و گفته است که برای حفاظت از پروژه قوش‌تیپه، به دستور رهبر امارت اسلامی، ۲۰۰ نیروی ویژه تعیین شده‌اند.#

## آغاز دو پروژه برق‌رسانی در کابل به ارزش بیش از...




...آب و انرژی می گوید که با تطبیق این دو پروژه بخش بزرگی از چالش‌های کم‌بود برق باشندگان کابل و پارک‌های صنعتی مرفوع خواهد شد. این دو پروژه شامل سب استیشن جدید ۱۸۹ میگاولت در منطقه بت‌خاک و لین انتقال برق ۲۲۰ کیلوولت از ارغندی تا این سب استیشن می‌شود.

سرپرست وزارت آب و انرژی تاکید می ورزد که این وزارت تلاش دارد از رهگذر تطبیق پروژه‌های گوناگون، آب‌های کشور را مدیریت و انرژی مورد نیاز مردم را تامین کند.

در سوی دیگر والی کابل نیز سرمایه‌گذاری در بخش برق را در رشد صنعت، تجارت و زیربنا مهم خوانده و افزوده است که امارت اسلامی در سال گذشته کار روی ۲۱۰ پروژه زیربنایی را در کابل آغاز کرد که کار برخی از آن‌ها نیز تکمیل شده است.

بر بنیاد اطلاعات وزارت آب و انرژی، این پروژه‌ها، بخشی از پروژه لین ۵۰۰ کیلوولت ترکمنستان به افغانستان است که با اتمام آن، مشکلات باشندگان کابل در بخش انرژی حل خواهد شد.#

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزراء لوړ مقام
د دفتر عمومي ریاست
د عامه او ستراتیژیکو اړیکو معاونیت
د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

ارگ پانه

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰٦۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

# جلسهٔ هیأت مؤظف جهت پیشبرد امور شفاخانهٔ نمونوی تدویر یافت

جلسهٔ هیأت مؤظف جهت پیشبرد امور شفاخانهٔ نمونوی تحت ریاست محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء تدویر یافت.

در این جلسه نخست اعضای هیأت راجع به پیشرفت‌های امور انجام شدهٔ این شفاخانه و در مورد کارکردها و اجراآت شان گزارش ارائه کردند.

سپس پیرامون تهیهٔ وسایل و تجهیزات ضروری برای این شفاخانه، تکمیل کارهای ساختمانی، ایجاد اکسیجن پلانت، استخدام و توظیف متخصصین و پرسونل اداری و خدماتی، نصب وسایل و ماشینری‌های طبی و تهیهٔ سایر نیازمندی‌های آن، بحث و بررسی همه جانبه صورت گرفت و در زمینه تصامیم لازم اتخاذ گردید.#

۵

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ازبیکستان له لومړي وزیر سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ازبیکستان ته د خپل سفر پر مهال د اوزبیکستان له لومړي وزیر محترم عبدالله عارف اوف سره وکتل.

د دغه لیدنې پر مهال د دواړو هېوادونو ترمنځ په بېلابېلو برخو کې د شوو توافقنامو پر عملي کولو خبرې وشوې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال د اسلامي امارت بهرنې سیاست ته په اشارې سره وویل، د ګاونډیو، سیمې او نړۍ هېوادونو په اړه د اسلامي امارت سیاست بې‌طرفه او د نه مداخلې پر اصولو ولاړ دی او له دوی څخه هم همدې اصل ته د ژمن پاتې کېدو غوښتنه لري. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، اسلامي امارت د نشه‌يي توکو د کر، تولید، کارولو او قاچاق پر ضد جدي مبارزه کړې ده او ګاونډیو هېوادونو ته يې د هغه د قاچاق مخنیوی کړی دی. اسلامي امارت ګاونډیو، سیمې او نړۍ هېوادونو ته ډاډ ورکوي چې د افغانستان خاوره به د هېڅ هېواد پر ضد ونه کارول شي او له دغه هېواد څخه دوی ته کوم تهدید نشته...

۵

# د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ له جاپان سره د همکارۍ ٦ مېلیون ډالري هوکړه‌لیک لاسلیک کړ





د دغه هوکړه‌لیک د لاسلیک کېدو موخه د بې‌ځایه شویو او راستنېدونکو افغانانو له ژوندانه ملاتړ او پر ځان‌بسیاینه بلل شوې ده چې ټاکل شوې د هېواد په ۱۳ ولایتونو کې ۱۵ زره تنه له دغې پروژې برخمن شي.

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ استازی عرفات جمال په دې هکله وایي: له جاپکا سره به د دې نوې همکارۍ له لارې څه باندې ۱۵ زره راستانه شوي افغانان له هغو فعالیتونو برخمن شي، چې د هغوی د ځان بسیاینې او هوساینې لپاره طرحه شوې دي. په دغو مراسمو کې په افغانستان کې د جاپان سفیر تاکایوشي کروما‌یا هم له افغانانو د ملاتړ په برخه کې پر خپلې ژمنتیا ټینګار وکړ.

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ د راپورونو له مخې، جاپان له ۲۰۲۱ کال راهیسې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو له دغه بنسټ سره نږدې دېرش مېلیون ډالره مرسته کړې ده.#

# دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با رئیس عمومی و معاون کمیتهٔ بین المللی صلیب سرخ کشور چین

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با آقای پیر کراهنبول رئیس عمومی کمیتهٔ بین المللی صلیب سرخ و آقای وانگ کی معاون اجرائیوی صلیب سرخ کشور چین دیدار نمود.

در این دیدار که محترم شیخ شهاب الدین دلاور رئیس جمعیت هلال احمر افغانی نیز حضور داشت، ابتدا معاون اداری ریاست الوزراء با ابراز خرسندی از این دیدار، هماهنگی بوجود آمده میان کمیتهٔ بین المللی صلیب سرخ و صلیب سرخ کشور چین را گامی مثبت در عرصهٔ کمک رسانی عنوان کرد.

سپس آقای پیر کراهنبول رئیس عمومی کمیتهٔ بین المللی صلیب سرخ صحبت نمود و از ادامهٔ کمک‌های این کمیته برای ملت افغانستان اطمینان داد. وی افزود: امنیت و ثبات در افغانستان بیش از پیش تحکیم یافته و تغییرات مثبت زیادی بوجود آمده که نباید از آن انکار صورت گیرد. آقای پیر کراهنبول همچنان گفت که مردم افغانستان در محراق توجه کمیتهٔ بین المللی صلیب سرخ قرار داشته و از هیچ نوع همکاری با آنان دریغ نخواهد شد. به همین ترتیب آقای وانگ کی معاون اجرائیوی صلیب سرخ چین از هفتاد سالگی روابط دوستانه میان کشورش و افغانستان یادآوری کرده، گفت که ما در پی بررسی نیازمندی‌های مردم افغانستان هستیم و در هماهنگی با کمیتهٔ بین المللی صلیب سرخ به کمک‌های انسان‌دوستانه به ملت افغانستان ادامه خواهیم داد. وی همچنان از کمک نقدی صد هزار دالری و صد هزار بستهٔ کمکی کشور چین برای مردم افغانستان خبر داد و گفت ما خواهان توسعهٔ همکاری در آینده نیز هستیم.

در مقابل محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء ضمن قدردانی از همکاری‌های کشور چین و کمیتهٔ بین المللی صلیب سرخ گفت که امارت اسلامی افغانستان در راستای رساندن کمک‌ها به مستحقین از هیچ نوع همکاری دریغ نمی‌ورزد. معاون اداری ریاست الوزراء افزود که مردم افغانستان به نسبت خشک سالی‌های پیهم، تغییرات اقلیمی و اخراج مهاجرین افغان از کشورهای بیرونی، نیازمند کمک و همکاری می‌باشند.#

# کابل او تاشکند په بېلابېلو اقتصادي برخو کې د ګډې همکارۍ په پراختیا ټینګار وکړ

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ازبیکستان ته د خپل سفر په ترڅ کې د دغه هېواد د لومړي وزیر له مرستیال محترم جمشید خوجه یوف سره په دوهمه ګډه ناسته کې دواړو لورو د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ په بېلابېلو برخو کې پر ګډو همکاریو خبرې وکړې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال وویل، د افغانستان او ازبیکستان ملتونه دیني، تاریخي، کلتوري او قومي مشترکات لري او دغو بنسټیزو...

۵

# امنيتي او تصفيوي چارو مرکزي کمېسیون نوبتي غونډه ترسره کړه







غونډه د یاد کمېسیون مسئول او د ملي دفاع سرپرست وزیر محترم مولوي محمد یعقوب مجاهد په مشرۍ په داسې حال کې ترسره شوه چې د کمېسیون ټولو غړو پکې ګډون درلود.

په یاد غونډه کې د امنیتي او تصفیوي چارو مرکزي کمېسیون اړوند د اقتصادي او مالي خوندیتوب کمېټې له لوري په هغه پلان چې د اقتصادي ثبات، د پانګوالو د ستونزو حل، او د مالي خوندیتوب د ټینګښت پر موضوعاتو جوړ شوی وو کتنه او بحث ترسره شو.

د یاد پلان له مخې به کورنیو او بهرنیو پانګوالو لپاره د اسانتیاوو برابرولو او د مالي خوندیتوب لوړولو په موخه کوټلي ګامونه پورته شي او ټول هغه عوامل به له منځه یوړل شي چې د پانګونې پر وړاندې د خنډ او ځنډ سبب ګرځي.

د دې ترڅنګ غونډه کې پرېکړه وشوه چې د قانون پلي کوونکي ادارې به د یو مشخص میکانیزم له مخې د اقتصادي تخریب مرتکبین مشخص او د قانون منګولو ته وسپاري.#

# فراخوان به تجار اوزبیکستان، برای سرمایه گذاری روی معادن افغانستان

محترم الحاج ملاهدایت‌الله بدری سرپرست وزارت معادن و پترولیم در جریان سفر اش به اوزبیکستان، با وزیر انرژی، رئیس نفت و گاز، رئیس پوهنتون جیولوژی، معاون تکنالوژی معلوماتی و تاجران افغان مقیم آن کشور دیدار کرد. به نقل از خبرنامه وزارت معادن و پترولیم، در این دیدارها، سرپرست وزارت معادن و پترولیم از سرمایه‌گذاران اوزبیکستانی دعوت کرد تا در بخش معادن افغانستان سرمایه‌گذاری کنند. همچنان، ارتقای ظرفیت انجنیران افغان و بهره‌برداری موثر از ذخایر معدنی کشور از جمله موضوعات محوری این گفت‌وگوها بوده است.#

**څه د پاسه ۱۱ میلیون افغانیو په ارزښت د لوګر ولایت سرخاب بند د بیا رغونې پروژې ترڅنګ دوه چکډمونه نږدې د شپږ میلیون افغانیو په ارزښت د اوبو او انرژۍ وزارت له لوري ګټه اخیستنې ته وسپارل شول. دغه بند ۹ میلیون متر مکعب اوبه ذخیره کوي، ۳۰۰۰ هکتاره ځمکه خړوبوي، چې په مستقیم او غیر مستقیم ډول تر ۹۰۰۰ کورنۍ ورڅخه ګټه اخلي. همدا راز دواړه چکډمونه ۱۶ زره متر مکعب د اوبو د ذخیره کولو ظرفیت لري.#**



# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په سردار محمد داوود خان روغتون کې یو شمېر برخې ګټې اخیستنې ته وسپارلې

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د سردار محمد داوود خان په څلور سوه بستریز روغتون کې یو شمېر روغتیایي برخې ګټې اخیستنې ته وسپارلې.

په دغو مراسمو کې د ملي دفاع سرپرست وزیر محترم مولوي محمد یعقوب مجاهد او د اسلامي امارت د وسله‌والو ځواکونو لوی درستیز محترم قاري فصیح‌الدین فطرت هم حضور درلود.

په یادو برخو کې نوې ۱۰۰ بستریزه څانګه، د ملکي ناروغانو لپاره جوړ شوی روغتون او همدا راز د سردار محمد داوود خان روغتون ته د ان کي سي کمپ سپارل شامل دي چې په نویو او عصري طبي تجهیزاتو سمبال دي.#